## مطبوعاتي اعلاميه

## د سوريې د سپېڅلي انقلاب ملاتړ وکړئ!

## پاکستان له روسيې سره ګډ پوځي تمرينونه کوي، خو روسي جيټ الوتکې د سوريې په ادلب کې مسلمانان بمباروي

(ژباړه)



رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«قَتْلُ الْمُؤْمِنِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ زَوَالِ الدُّنْيَا»**

(رواه نسائي)

*الله سبحانه وتعالی ته د يو مومن وژنه د نړۍ تر ورانولو هم لويه ده.*

پر اسلامي پوځ لازمه ده، چې د يوه مومن د وينې لپاره وخوځېږي. موږ نن وينو، چې په زرګونو، لکونو او ميليونونو مسلمانان له خپل ډال يعنې د نبوت پر منهج له خلافته بې برخې دي. خو بيا هم پاکستاني حکام زموږ ځواکمن پوځيان د دوی په پوځ خونو کې ساتلي او د مسلمانانو د پاکې وينې لپاره، يې نه اشغال شوي کشمير، نه فلسطين، نه برما او نه هم اوس د سوريې ادلب ته خوځوي. اوسني حکام ان د دغو د غندلو لپاره هم خپله ژبه نه خوځوي، حتی د پاکستان د وسله وال پوځ د عامه اړيکو اداره (ISPR) او بهرنيو چارو وزارت، چې د حکامو لپاره د بيانيې ورکولو سرچينې دي، هم خپلې خولې بندې ساتلې. دوی حتی د اعتراض يوه کليمه هم له خولې نه را باسي، کله چې يوه اونۍ مخکې د سپټمبر پر ۲۵ مه د روسيې او سوريې د ظالمو حکومتونو په هوايي بريدونو کې لږ تر لږه ۱۵۰ عام وګړي ووژل شول او لسګونه نور ټپيان شول. همدا راز دوی د هغې پېښې پر وړاندې چې د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر پر ۲۸ مه په اماناز ښار کې، چې د ترکيې له پولې يوازې څو مايله لرې دی، د شپې لخوا

هوايي برید کې چې د څلورو ماشومانو په ګډون لسګونه کسان شهیدان شول، هم د اعتراض یوه کلمه له خولې ونه ایستله.

ایا پاکستاني حکامو ته نه وه په کار چې په چټکۍ سره یې د ځانګړو ځواکونو "DRUZBA 2017" ګډ پوځي تمرینات، چې د سپټمبر پر ۲۴مه د روسیې په مینېرالني دره کې پیل شوي وو، لغو کړي وی؟ ایا پاکستاني چارواکيویني، چې له هغو دښمنانو سره درېدلي، چې مسلمانان په ډېر حکمت سره وژني، ان چې عقل پرې کار نه کوي؟ ایا پاکستاني حکامو ته پکار نه وه چې ترکیې ته یې د خپلو پوځیانو وراندیز کړی وی، تر څو مسلمان پوځیان په ګډه سره په شام کې د خاین پر وړاندې سره درېدلي وی او د ادلیب د مسلمانانو ملاتړ یې کړی وی؟ ایا پاکستاني چارواکي په دې اند دي چې زموږ پوځیان یوازې د ټرمپ په لارښوونه، له ترهګرۍ سره د هغه د ملعونې جګړې لپاره، خوځېږي؛ هغه جګړه چې د نړۍ په هر ګوټ کې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې، یوه صلیبي جګړه ده؟ ایا پر هغو پوځیانو او افسران باندې چې په هر ځای کې له اسلام او مسلمانانو سره مینه لري، د اسلام او مسلمانانو حق نه دی چې ترې دفاع وکړي؟

**اې د پاکستان د وسله وال ځواک مسلمانانو!** موږ نېغ پر نېغه تاسو ته خطاب کوو، چې د دغو حکامو نه شتون به یقینا زموږ د امت او دین په برخه کې هېڅ ارزښت ونه لري. له بده مرغه دوی زموږ له دښمنانو ملاتړ کوي؛ لکه څنګه چې یې د میانمار په ظالم حکومت JF-17 جنګي الوتکې وپلورلې او د ګډو پوځي تمرینونو پر مټ یې ظالمه روسیه، د یوه لوی اسلامي پوځ له ورتیاوو سره اشنا کړه. نن د امت تر منځ جګړه له یوې خوا کافر دولتونه او له بلې خوا د دوی د شریکانو (مسلمانو حکامو) پر مټ پر مخ وړل کېږي. نو پر تاسو لازمه ده، چې له اسلام او مسلمانانو کلک ملاتړ وکړئ، تلوار وکړئ؛ چې پایلې به یې ډېر ژر تر لاسه شي ان شاالله. حزب تحریر ته د نصرت په ورکولو سره د اسلام او مسلمانانو ملاتړ وکړئ، تر څو د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج راشده خلافت بیا تاسیس کړي. په خپل نصرت سره د اسلام او مسلمانو ملاتړ وکړئ، تر څو د مومنانو اوښکو ته په وړ توګه، لکه څرنګه چې د دوی حق دی، ځواب ووایئ. همدا اوس نصرت ورکړئ، په دې توګه به د امت دښمنان په خپلو دروازو کې ستاسو د اور او زور په لیدو سخت وویرېږي! الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿...وَظَنُّوا أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمْ حُصُونُهُم مِّنَ اللَّهِ فَأَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا...﴾ [حشر:۲]**

*... هغوی دا ګڼله چې خپلې کلاوې به یې د الله (له عذاب) څخه وژغوري، خو د الله (عذاب) له داسې لوري ورباندې راغی چې دوی یې په اړه فکر هم نه کاوه...*

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۳۹هـ.ق، د محرم ۱۲مه**

**۲۰۱۷م، د اکتوبر ۲مه، دوشنبه**